


## د کوېډ-۱۹ واکسینونه – هغه ماشومان چې د ۵ څخه تر ۱۱ کلونو پورې عمر ولري
## د ۲۰۲۲ کال د مې ۱۲مه

### ماشومان او کوېډ-۱۹

کوېډ-۱۹یو ویروسي انتان یا اینفیکش دی چې زیاتره په سږو اغېزه کوي. اکثره ماشومان چې کوېډ-۱۹ لري، نښې یې معتدلې وي. ځینې ماشومان ډېر ناروغه کېدای شي او ښایي په روغتون کې بستر کېدو ته اړتیا ولري او یا د اوږدې مودې نښې ورته پیدا شي د ستړیا احساس، تنفسي ستونځه، د تمرکز ستونځه یا د عضلاتو دردونو په ګډون.

د ماشومانو واکسین کول دوی د کوېډ-۱۹ د ښو د جدي ناروغیو څخه ساتي. څومره ډېر ماشومان چې واکسین شي، په هماغه اندازه به ښوونځي، سپورتونه او نور فعالیتونه خوندي وي.

### د ماشومانو لپاره د کوېډ-۱۹ واکسینونه

ماشومان باید د واکسین کولو په وخت کې د ۵ کاله او یا ډېر عمر ولري. د کاناډا د روغتیا وزارت د ایم - این - آر - اې تصویب شوي واکسینونه د ماشومانو لپاره د پیډیاټریک فایزر - بایو اینټیک (د ۵ څخه تر ۱۱ کلنو پورې) او موډرنا سپایکوکس (د ۶ څخه تر ۱۱ کلنو لپاره) دي.

### د ماشومانو لپاره د ایم – این – آر - اې  واکسینونه په لاندې ډول دي:

- خوندي او اغېزمن، د هغو ماشومانو په ګډون چې یوه روغتیایي ستونځه لري، لکه حساسیت، ساه بندي، شکرې یا د معافیت سیستم کمزوري.
- په احتیاط سره څارل شوي او په ټوله نړۍ کې د پیډیاټریک فایزر واکسین ملیونونو ډوزونه ورکول شوي دي .
- د ۱۲ کلنو او د هغه څخه پورته عمر لرونکو کسانو ته کوچنی ډوز.

د ماشومانو د فایزر - بایو اینټیک په دې عمر ګروپ کې غوره واکسین دی. د هغه ماشوم لپاره چې د معافیت سیستم یې خورا کمزوری وي، د موډرنا واکسین په پام کې نیول کېدی شي.

### واکسین څنګه کار کوي

- د ایم - این - آر - اې واکسینونه زمونږ د معافیت سیستم ته د انټي باډیز د جوړولو ښوونه کوي چې مونږ د کوېډ-۱۹ څخه وساتي.
- دا واکسینونه د کوېډ-۱۹ ویروس نلري، نو ستاسو ماشوم نشي کولای د واکسین څخه انفیکشن واخلي.

- د واکسین هر ډوز وروسته، لږ تر لږه دوه اونۍ وخت نیسي چې خوندیتوب تر لاسه شي.
- د بشپړ خوندیتوب لپاره د واکسین دوه ډوزونو ته اړتیا ده. هغه ماشومان چې د معافیت سیستم یې خورا کمزوری وي باید درې ډوزونه واخلي.
- د ډوزونو تر منځ د اته اونۍ وخت سپارښتنه کیږي.

## د واکسین اجزا او حساسیت

د ایم - این - آر - اې په واکسینونه کې لیپیدونه (وازګې)، مالګې، بورې او بفر (عضوي محلول) ګډ دي. په دوې کې هګۍ، جیلاتین (خنزیر)، ګلوټین (نشایسته)، لیټیکس(شیره)، ساتونکي توکي، انټي بیوټیکونه، یا المونیم ګډ نه دي. دا واکسینونه د هغو ماشومانو لپاره خوندي دي چې خواړو، درمل یا د چاپېریال سره حساسیت لري. د روغتیايي پاملرنې وړاندي کونکي سره خبرې وکړئ که ستاسو ماشوم د پولیتیلین ګلایکول (د قبضیت دوا) سره حساسیت ولري. د حساسیت غبرګونونه د جدي غبرګونونو (انافیلیکسس) په ګډون، ډیرکم دي. د حساسیت غبرګون درملنه کېدای شي او معمولاً لنډمهاله وي. که ستاسو ماشوم په ساه اخستلوکې ستونځه ولري، یا په مخ او ستوني کې پړسوب یا د پوستکي بخار پیدا کړي، طبي مرسته ترلاسه کړئ.

## اړخیزه اغیزې او خطرونه

اړخیزه اغیزې په ماشومانو، ځوانانو او لویانو کې ورته دي. دا اغېزې معمولاً معتدلې وي، او له یوه څخه تر دریو ورځو پورې دوام کوي. اړخیزه اغیزې معمولاً پدې معنئ دي چې واکسین کار کوي.

عام اړخیزې اغیزې کې دا لاندې ګډ دي:

- سوروالی، پړسوب یا درد چیرته چې واکسین ورکړل شوی
- د سر درد
- ټوخی او یا کانګې
- د ستړیا احساس
- د بندونو درد او یا د عضلاتو درد
- ساړو له کبله ریږدېدنه او یا تبه

که ستاسو ماشوم لوړه تبه ولري (د ۴۰ درجې سانتي ګراد څخه ډېر) یا د واکسین کولو وروسته له دریو ورځو څخه ډېر اړخیزې اغیزې ولري طبي پاملرنه ترلاسه کړئ.

## مایکرودیتیس او پیریکردیتیس Myocarditis and Pericarditis

کېدای شي مایکرودیتیس اوپېریکردیتیس (د زړه د التهاب ډولونه) د کویډ-۱۹ له انفیکشن وروسته منځ ته راشي او کېدای شي جدي وي. په نادره مواردو کې، دا د واکسین کولو وروسته منځ ته راتلای شي مګر دا معتدل وي او معمولاً په څو ورځو کې ښه کیږي. که ستاسو ماشوم ته د واکسین کولو څخه څو اونۍ وروسته د سینې درد، ساه لنډي، یا د زړه ضربان زیاتېدل پیښ شي، طبي پاملرنه ترلاسه کړئ.د واکسین کولو لاهم سپارښتنه کیږي ځکه چې ګټې یې له هر خطر څخه ډیرې دي.

### د واکسین کولو لپاره انتظار وکړئ

- هغه ماشومان چې تبه ولري یا د کویډ-۱۹ نښې ولري باید تر هغه پورې انتظار وکړي چې دوی ښه شي. په دې اړه ځان وپوهوئ [چې کله په کویډ-۱۹ د اخته کېدو وروسته واکسین وشي.](#)
- هغه ماشومان چې ځان جلا کولو (انزوا) ته اړتیا لري باید انتظار وکړي تر څو چې د دوی د جلا کېدو موده پای ته ورسیږي.

**د روغتیا پاملرنې چمتو کونکي سره مشوره وکړئ که ستاسو ماشوم:**

- هغه درمل اخلي چې د دوی د معافیت سیستم کمزوری کوي - تاسو شاید د دوی د درملو سره په ورته وخت کې واکسین وکړئ
- د کوویډ-۱۹ واکسین د لومړي ډوز ترلاسه کولو څلور ساعته وروسته دحساسیت غبرګون درلود.
- د واکسین له هر ډول اجزاوو سره سخت حساسیت لري.
- د ملټي سیسټم التهابي سنډروم درلود.

**د واکسین کولو لپاره د پوهاوي رضایت**

د ۵ څخه تر ۱۱ کلنو ماشومانو ته د واکسین ورکولو لپاره د والدین یا ساتونکي رضایت ته اړتیا شته.

**د نورو معلوماتو لپاره:** د خپل روغتیا پاملرنې وړاندي کونکي سره خبرې وکړئ او Toronto.ca/COVID19 څخه لیدنه وکړئ